مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال
۲۰۱۹/۰۱/۱۴

# د نشنلیزم او پاتریوتیزم تر منځ توپیرونه

د ۲۰۱۸ کال د دسمبر د میاشتې په (۱۵) سمه نېټه، د هیواد په ملی مسائلو او ټولنیزو حالانو باندی قدرمن یوه محترم وطندوست صاحب، تردی سرلیک لاندی ( ملی گیرائی یا نژاد پرستی ) یوه ډېره ګټوره او دېولو د پام وړ لیکنه، د ښاغلی روښان خادم صاحب په لیکنه چې نوم یې و)افغان ملی گیرائی (په تکمیلی توګه، د افغان ـ جرمن په درنه ویب پاڼه کی نشر ته سپارلی وه. د قدرمن وطندوست صاحب دا لیکنه می له دی کبله ډېره خوښه شوه چې د یوی نوی او ډیری حساسی موضوع سره یی تړاو درلود. هلته می هم ورته د کور ودانی په توګه د نظر سنجولو په پاڼه یا کړکی څو لنډی جملی لیکلی وی او دلته یو وار بیا هم ورته د درناوی په توګه لیکم چې وطندوست صاحب ! تاسو سره بی له انسانیت، افغانیت او اسلامیت نه غیر کومه د خپلوی یا پخوانی پېژند ګلوی اړیکه نه لرم خو په پوهی او وطن دوستی کی دی هم نه یواځی داچی شک نه لرم بلکی باور لرم چې په دی لار کی په لومړی لیکه (صف) کی و لاړ یاست درناوی می و منی .

د وطندوست صاحب په دی لیکنه کی د دوه ډیرو سره نژدی او مشابه اصطلاحاتو یعنی نشنلیزم یا ناسیو نالیزم (Nationalism) او پاتریوتیزم (Patriotism) په هکله په لنډو جملو کی ډیر جامع معلومات وړاندی شوی دی، ما ته یی ډیر خوند راکړ او داسی راته څرګنده شوه چې که دا دوه مفاهیم چې ډیرکرت یو ډول تعبیر کیږی لږ په پراخه بڼه و څیړل شی او د دوی تر منځ تو پیرونه په ګوته شی ممکن شریکول به یی د درنو لوستونکو سره بی ګټی نه وی.

په دی برخه کی می د څیړنی په وخت کی د ډیرو ټولنپوهانو لنډی او اوږدی مقالی و لوستلی، خو د ټولو په منځ کی می د ځوان هندی ټولنپوه ښاغلی شُوبهیت ماتور Mathur Shobhit لیکنه ډیره خوښه شوه چې لنډیز به یی له درنو دوستانو سره شریک کړم.

ښاغلی شوبهیت ماتور وایی: نشنلیزم او پاتریو تیزم دوه هسی اصطلاحات یا مفاهیم دی چې د یوه شخص مینه او علاقه مندی د خپل ملت او هیواد سره ښیایی. دا دواړه اصطلاحات اکثراً یو ډول تعبیریږی او کله نا کله په ناسمه توګه په ورته مفهوم سره کارول کیږی، حال داچې د دی دواړو مفاهیمو تر منځ په باریکی پیژندنی سره ډیر توپیر موجود دی.

د نشنلیزم اصلی مفهوم داسی دی چې واحد کلچری جوړښت ته د ژبی او فرهنګی میراث په ګډون داصل په سترګه ګوری. خو پاتریوتیزم د ملت سره په هغی مینی پوری تړلی مفهوم دی چې د ملی ارزښتونو او باورونو د لرلو او تقویی په نتیجه کی را منځ ته کیږی.

ښاغلی ماتور وایی کله چې څوک د دی دوه مفاهیمو په باره کی خبری کوی نو په هیڅ وجه نه شی کولی چې په هندوستان کی د زیږیدلی انګریزی ټولنپوه لیکوال جورج آرویل ( ۱۹۰۳ـ ۱۹۵۰) ، مشهوره وینا له یاده وباسی چې وایی : « نشنلیزم د سوله ایز ژوند تر ټولو ستر او ناوړه دښمن دی. ځکه نشنلیزم یو داسی احساس دی چې انسان فکر کوی، د ده ملت او دده هیواد د نورو ملتونو او هیوادونو څخه لوړ، بهتر او د قدر وړ دی. ولی پاتریوتیزم هسی یواحساس دی چې انسان ته د یوه ښکلی ژوندانه د جوړښت سره مینه ور زده کوی. پاتریوتیزم د خپل مفهوم له مخی یوه بی ضرره حتی ګټوره اصطلاح ده چې د نورو سره د نیکو اړیکو په لرلو په خپل ټولنیز ژوند کی تغیر او بدلون غواړی. خو نشنلیزم تر ډیره حده دتیری، تاوتریخوالی او په نورو د زور زیاتی د چلونی مفهوم ارایه کوی»

که په اختصار سره و وایو نو ویلی شو چې پاتریوتیزم د محبت او عاطفی د زیږیدو او پیاوړتیا په مفهوم دی او نشنلیزم د درقابت، دښمنی، کرکی او بدبینی نه سرچینه اخلی. یا داچې نشنلیزم د خپل ماهیت له مخی یو جګړه مار او قهرجن مفهوم دی او پاتریوتیزم یو سوله ایز او محبت آمیزه مفهوم.

نشنلستان په عمومی توګه داسی فکر کوی چې د دوی ملت او هیواد د نورو نه لوړ دی، بهتر دی د قدر او احترام وړدی اونور باید دوی ته بی له دی چې د دلیل پوښتنه وکړی درناوی ولری.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

خو پاتريوتستان داسی باور لری چی د دوی هیواد او ملت یو له ښو هیوادونو او ملتونو څخه دی او که وګړی یی زیار وکاږی نور به هم ښه او بهتر شی. دوی د نورو سره د نیکو او دوستانه اړیکو په لرلو، د ژوندانه په لا ښه والی او بهتروالی باندی باورمن دی.
د نشنلستانو او پاتریوتستانو تر منځ یو لوی توپیر دا هم دی چی نشنلستان کم حوصله دی، خون ګرم دی، انتقاد نه منی، هر منتقد د خپل عزت دښمن ګڼی او د نوو شیانو د زده کړی سره علاقه مند نه دی. اما پاتریوتستان د پراخی حوصلی خاوندان دي، انتقاد پزير دي، د ځان د اصلاح او رغونی سره مینه و ښای او تل زيار کاږی چی نوی شیان زده کړی.
بلاخره نشنلستان داسی خلک دی چی په روانو حالاتو کی د مثبت بدلون سره چندان علاقه نه لری، خو ټوله زوره په تیرو وختونو اچوی او د خپل ملت په تیرو ویاړونو دومره مغرور وی چی د پلرونو او نیکونو د کارنامو له کبله ځان ورته ( که مطلق بیکاره هم وی) ډیر لوړ بریښی، دوی تل په تیرو وختو قضاوت کوی. د دوی په خلاف پاتریوتستان داسی خلک دی چی د تیرو نسلونو په نیکو کړو وړو ویاړی خو دراتلونکی ژوندانه د جوړښت د پاره هلی ځلی خپل اصلی مسئولیت ګڼی.
ډیر احتیاط باید وشی چی نشنلیزم په فاشیزم، شوونیزم، راسیزم او جینګوئیزم باندی له تغیر نه وژغورل شی، ځکه دا ټول مفاهیم د عملی تطبیق په نتیجه کی یو ملت د آبادئ په ځای د نابودی په لوری بیایی، چی په بشری تاریخ کی یی ډیری نمونی شتون لری، که احتیاط ونه شی افراطی نشنلیزم حتمی دی نورو ټولنیزو ناروغیو ته ور اوړی چی بیایی مخنیوی ډیر ستونزمن کار دی .
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ